عبدالغفور لیوال

۲۰۲۲/۱۰/۱۳

# د افغانستان د هر قوم

## هر مکتب لوستي،

## عقلپلوي او منځلاري انسان ته!

د افغانستان جګړه نه د هزاره و پښتنو یا تاجیکانو او تورکتوکمو ده او نه هم د شیعه او سني.

د افغانستان جګړه د دین په نامه پاکستانجوړ افراطیت او معتدل، عقلاني منځلاریتوب تر منځ د تقابل جګړه ده، چې په دواړو لوریو کې د هر قوم و سیمي خلک شامل دي.

ښکېلاک غواړي په افغانستان کې جګړه روانه وي. تر پرونه یې د اشغال او اسلام په نامه سره جنګول، نن چې اشغال نه شته او خلک تازه مسلمانان(!) شوي دي، قومي ویشونه لکه مرخېړي داسي راشنه شول او د جګړې عقیدوي بڼه یې قومي کړه.

تورکتوکمي یې ښېل کړل، تاجیکان یې ښېل کړل او هزاره ګان یې ښېل. په افراطي اُمت پالو کې یې هم قومیتونه یو د بل په وړاندي سره ودرول.

شمال کې پیریان راپیدا شول. دا پیریان به څه موده روسته وګورئ، چې څومره نور پیریان زېږوي او کومو کومو ځایونو کې اور بلوي...

په تیرا او کورمه کې یې د شیعه و سني اور بل کړ، په سوات کې یې د ښوونځي ماشومان ووژل، په وزیرستانونو کې د تورو او سپینو بیرغونو لپاره جلب و جذب شروع دی.

مشران یې ښکساره کړل، دوست و دوښمن نه پېژني. ځینو هغو ډلو ته پناه یووړه، چې افغانستان یې د پاکستان مستعمره کړ...

دا جګړه نه په هشتګونو کوم ځای ته رسیږي، نه په یو بل ښکنځلو.

د ټولو قومونو مکتب لوستیو، چې ځانونه (روښانفکران) بولئ!

د پاکستاني افراطیت په وړاندي د اعتدال، تعقل او ملتپال تفکر کرښي پیاوړې کړئ او په ګډه افغانستان وژغورئ او که نه ټول به سر په نیست شئ!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ